يو بل سره کينه مه کوئ، يو پر بل قيمت مه لوړوئ په داسې حال کې چې توکي اخېستونکي نه ياست، له يو بل سره کينه مه کوئ، يو بل ته شا مه اړوئ، او کله چې يو څوک اخيستل کوي نو د هغه د بېعې د پاسه تاسو بيعه مه کوئ (تر دې چې هغه سره يې خبره خلاصه شوې نه وي)، او يو بل سره د الله بندګان؛ وروڼه وروڼه شئ

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "يو بل سره کينه مه کوئ، يو پر بل قيمت مه لوړوئ په داسې حال کې چې توکي اخېستونکي نه ياست، له يو بل سره کينه مه کوئ، يو بل ته شا مه اړوئ، او کله چې يو څوک اخيستل کوي نو د هغه د بېعې د پاسه تاسو بيعه مه کوئ (تر دې چې هغه سره يې خبره خلاصه شوې نه وي)، او يو بل سره د الله بندګان؛ وروڼه وروڼه شئ يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، ظلم پرې نه کوي او ځانته يې نه پرېږدي او نه يې سپکوي، تقوا دلته ده،"هغه درې ځلې خپلې سينې ته اشاره وکړه" د يو سړي لپاره دومره شر بسنه کوي چې خپل مسلمان ورور ته سپک وګوري، هر مسلمان پر بل مسلمان حرام دی، وينه يې، مال يې، او عزت يې.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمان ورور سره د ښه چلند لارښوونه کوي، او ځينې هغه دندې او آداب يې هم تشريح کړي چې دوی يې بايد د دوی په وړاندې ولري؛ له هغو جملې څخه: لومړی وصيت: کينه مه کوئ چې له يو بل څخه د نعمت د زوال هيله ولرئ. دويم: تناڼُش مه کوئ يعنې د يو توکي د بيې په لوړولو کې دې (د بل د دوکه کولو لپاره سره چنې مه وهي) حال دا چې د اخېستو اراده نه لري؛ بلکې يوازې پلورونکي ته د ګټې رسولو يا پېرودونکي ته د زيان رسولو اراده لري. دريم: يو بل سره دښمني مه کوئ، چې هغه بل ته ضرر رسول او د محبت ضد عمل دی، مګر دا چې بغض او کينه د الله لپاره وي؛ ځکه دا واجب دی. څلورم: يوبل ته شا مه اړوئ، چې هر يو له خپل مسلمان ورور څخه مخ اړوي او پرېږدي يې. پنځم: يو د بل د پلور له پاسه پلور مه کوئ، داسې چې توکي اخېستونکي ته ووايي: زما سره د همدې توکي په ځېر لدې ارزانه دی، يا لدې په بيه کې ښه دی. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم يو جامع وصيت وکړ نو ويې فرمايل: د ورونو په ځېر شئ چې ياد منع شوي ځيزونه پرېږدئ، او په خپلو کې سره مينه، مهرباني، شفقت، نرمي او د خير په کارونو کې مرسته وکړئ، پداسې حال کې چې زړونه مو يو بل ته پاک وي او په هر حال کې خپلمنځي نصيحت کوئ. د دې ورورګلو اړتياوې عبارت دي له: چې پر خپل مسلمان ورور ظلم يا تېری ونه کړي. خپل مسلمان ورور پرې نږدي چې ظلم ورسره وشي، داسې چې له ملاتړ څخه يې پداسې يو ځای کې لاس واخلي چې د هغه د مرستې کولو وس لري، او د ظلم مخنيوی پرې ونه کړي. او دا چې سپک يې نه کړي او د تحقير په موخه ورته په سپک نظر ونه ګوري، کوم چې په زړه کې د تکبر پايله ده. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ځلې تشريح کړه چې تقوا په زړه کې ده، او څوک چې په زړه کې تقوا ولري، کومه چې د ښو اخلاقو او له الله تعالى څخه د وېرې او د هغه د ځار غوښتنه کوي نو هېڅکله به مسلمان سپک نه کړي، او د يو چا لپاره په بد اخلاق کې بسنه کوي چې خپل مسلمان ورور سپک کړي؛ د هغه کبر له امله چې په زړه کې يې لري. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه څه ټينګار وکړ چې وړاندې يې يادونه وشوه چې هر مسلمان پر بل مسلمان حرام دی؛ د هغه وينه لدې چې په وژنه پرې تيری وکړي او لدې کم چې ټپي يې کړي او يا يې ووهي، او همدا رنګه مال يې پرې حرام دی چې په ناحقه يې واخلي او همدارنګه عزت يې چې په ځان او نسب کې يې سپک کړي.

